مائوتسه دون
ژباړه: فرهاد ویاړ

۰۱ مارچ ۲۰۲۱

## د تضاد په اړه

**(د ۱۹۳۷ اګست)**

**لومړی برخه**

د چین په کمونیست ګوند کې د هغه مهال پر دګماتیستي جدي تیروتنو دغلبې په پار، ملګري مائوتسه دون دوه فلسفي رسالې ولیکلی. دا فلسفي رساله «د پراتیک په اړه» له رسالې وروسته لیکل شوی ده. د تضاد په اړه رساله، په لومړیو کې د **ینان** جاپاني ضد پوځي او سیاسي کالج کې د لکچر په توګه وړاندی شوه خو وروسته لیکوال د خپلو آثارو په غورچاڼ کې د خپرولو په موخه ورباندې بیا کتنه وکړه.

د اشیاو د تضاد قانون، یا د اضدادو د وحدت قانون، د ماتریالیستي دیالکتیک بنسټیز قانون دی. لنین وویل:«د دیالکتیک صحیح مفهوم، د اشیاو په واقعي ذات او منځپانګه کې د تضاد مطالعه ده.» (۱) لنین اغلباً دا قانون د دیالکتیک منځپانګه ګڼله، هغه همدا شان دا قانون د دیالکتیک هسته ګڼله.(۲) نو د دې قانون د مطالعې لپاره، اړ یوو چې له یو شمیر زیاتو پوښتنو، له یو شمیر فلسفي مسئلو سره مخ شو. که چیرې ځان په دې ټولو مسئلو پوه کړو، نو د ماتریالیستي دیالکتیک په اړه اساسي پوهه تر لاسه کولای شوو.

د پوهیدو وړ مسئلې دا دي: دوه نړی لید، د تضاد عامتیا، د تضاد خاصتیا، عمده تضاد او د تضاد عمده اړخ؛ د اضدادو مبارزه او همدولي؛ او په تضاد کې د انتاګونیزم ځای.

هغه نیوکه چې په دې وروستیو کلونو کې د شوروي اتحاد د فلسفي کړیو لخوا د **دبورین** مکتب پر ایده الیزم شوی، زموږ په مینځ کې د زیاتې لیوالتیا لامل شوی ده. د دبورین ایده الیزم د چین کمونیست ګوند کې ډیره بده اغیزه کړی او ویلی شوو چې زموږ په ګوند کې دګماتیستي نظرات د دې مکتب له فکري دریځ سره اړیکه لري. د همدې لپاره زموږ د اوسني فلسفي مطالعې اصلي موخه باید د دګماتیستي نظراتو د جرړې ایستل وي.

ادامه لري